UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

## د افغانستان د سولې د خبرو له پیل وروسته دملکي تلفات لوړېدل – د ملګرو ملتونو نوی رپوټ

**کابل، د ۲۰۲۱ کال د فبروری ۲۳مه** - د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو دفتر لخوا د خپاره شوي رپوټ پر بنسټ د تېرمیلادي کال په سپټمبر کې د سولې د خبرو له پیل وروسته په افغانستان کې د ملکیانو په مرګ ژوبله کې زیاتوالی راغلی، په داسې حال کې چې په ټولیز ډول په۲۰۲۰ کې د ملکي تلفاتو کچه د کال په لومړیو کې د کمو تلفاتو له کبله ټیټه وه.

په افغانستان کې په وسله والو جګړو کې د ملکیانو د خوندیتوب د ۲۰۲۰ کال کلنی رپوټ ملکي وګړو ته د وسله والو جګړو د وحشتناک زیان کچه مستندوي او د کال په وروستی ربع کې ددوی پر وړاندې د تاوتریخوالي د ډیریدو لاملونه په ګوته کوي.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې دیبرا لاینز وویل : " ۲۰۲۰ کال کیدای شوای په افغانستان کې د سولې کال وای، خو پرځای یې په زرګونو ملکي افغانان د جګړې له کبله له منځه ولاړل. ددغه مهم رپوټ اصلي هدف مسوولو خواوو ته د واقیعیتونو او سپارښتنو وړاندې کول دي چې هغوی ملکیانو ته د زیان رسیدو د مخنیوي په برخه کې مشخص او فوري ګامونه پورته کړي. زه له هغوی څخه غوښتنه کوم چې د فوري اقداماتو په ترسره کولو کې د لا زیاتو رنځونو د مخنیوي لپاره ان یوه ورځ ضایع نکړي ."

اغلې لاینز چې د یوناما مشره هم ده وویل: " په نهایت کې د ملکیانو د خوندیتوب ترټولو غوره لاره داده چې یو بشري اوربند رامنځ ته شي. هغه ډلې چې اوربند له پامه غورځوي باید په ملکي افغانانو ددغه ډول وضیعیت ویجاړونکې اغیزې تشخیص کړي"

د اوم پرلپسې کال لپاره، یوناما په یوه کال کې د څه باندې ۳۰۰۰ ملکي وګړو وژنه مستنده کړې او په دې توګه افغانستان په نړۍ کې د ملکیانو لپاره د مرګونو ځایونو په ډله کې پاته دی.

د جګړې یو ځورونکی خصوصیت هغه ټکان ورکونکی او نا متنا سب درد دی چې پر افغان ښځو اوماشومانو پاته کیږي. دوی د ټولو ملکي تلفاتو ۴۳ سلنه جوړوي: د ماشومانو د تلفاتو شمیره ۲۶۱۹ (۳۰سلنه) او د ښځو د تلفاتو شمیره ۱۱۴۶ (۱۳سلنه) جوړوي. له ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول مستند کول پیل کړي، په ۲۰۲۰ کال کې ډیرې ښځې په جګړو کې وژل شوې دي. په ټولیز ډول ۱۱۵۰ ښځې او ماشومان وژل شوي ( ۳۹۰ ښځې او ۷۶۰ ماشومان).

په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو شمیر۸۸۲۰ تنه (۳۰۳۵ وژل شوي او ۵۷۸۵ ټپیان) دي چې له ۲۰۱۳ کال راهیسې په لومړي ځل دا شمیره تر ۱۰ زرو ټیټه ده او د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۵ په سلو کې کموالی ښیي. په داسې حال کې چې د کمې شوې شمیرې هرکلی کوو، اسناد او مدارک ښیي چې د ټولو زیانونو ټیټه کچه د کال په وروستی ربع کې تر یوه بریده د یولړ مشخصو تاکتیکونو له کبله زیات او همدارنګه د غیرمعمول ملکي زیان په ډیریدو سره جبران شوې.

د افغانستان د سولې خبرې اترې، چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د طالبانو د استازو ترمنځ د سپټمبر په ۱۲ مه په دوحه کې پیل شوې او د تاوتریخوالي د کچې ښه شاخص دی، ونه توانیدې چې ملکي وګړو ته د زیان اوښتو کچه راټیټه کړي.

له ۲۰۰۹ کال راهیسې چې په منظم ډول د ملکي تلفاتو مستند کیدل پیل شوي په لومړي ځل یوناما د کال په څلورمه ربع کې د دریمې ربعې پرتله د ثبت شویو ملکي تلفاتو شمیر کې زیاتوالی ثبت کړیدی. سربیره پردې ، د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې یا وروستیو دریو میاشتو په پرتله د ملکي تلفاتو په کچه کې ۴۵ په سلو کې زیاتوالی راغلی دی، په ځانګړې توګه د هدفي وژنو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارونې له کبله.

د۲۰۲۰ کال په اکتوبر میاشت کې ترنورو میاشتو ډیرملکي تلفات رامنځ ته شویدي او له ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما په منظم ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي د نومبرپه میاشت کې تر بل هر نومبره ډیر ملکي تلفات ثبت شویدي. دتاوتریخوالي د مجموعي ډیروالي په خوا کې کله چې کال پای ته ورسید، خلک له هدفي وژنو سره مخامخ شوي چې د ډیرو لخوا د رسنیو، مدني فعالانو، د عدلي او ملکي حکومتي ادارو د کارکونکو او همدارنګه د جنګیالیو د کورنیو د ملکي غړو په ګډون د ملکیانو "وژنه" بلل شوې.

دملګري ملتونو سرمنشي او امنیت شورا په پرلپسې ډول دنړیوال بشري اوربند غوښتنه کړې چې د ملکیانو د خوندیتوب ترټولو ښه لاره ده.

د جګړې له پای ته رسولو پرته، ښکیل اړخونه د رپوټ سپارښتنو ته د پام کولو په ګډون اړ دي چې ملکي تلفات کم او مخه یې ونیسي. رپوټ همدارنګه ښکیلو اړخونو ته وریادوي، هغه بریدونه چې پرملکیانو او یا ملکي اهدافو وشي، له نړیوالو بشردوستانه حقوقو څخه جدي سرغړونه ده چې کیدای شي جنګي جرم وبلل شي.

د حکومت ضد عناصر په ۲۰۲۰ کال کې د ډیرو ملکي تلفاتو(۶۲ په سلو کې یاني ۵۴۵۹ تلفاتو – ۱۸۸۵ وژنو او ۳۵۷۴ ټپیانو) سبب شوي دي، چې له دغو ډلو څخه طالبان د ډیرو تلفاتو (۴۶ په سلو ) مسوول دي او د اسلامي دولت خراسان ډله (ISIL-KP) د ۸ په سلو کې تلفاتو مسووله ده.

حکومت پلوه ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو د څلورمي برخې یاني ۲۲۳۱ تلفاتو (۸۴۱ وژل شویو او ۱۳۹۰ ټپیانو) سبب شوي چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۲۴ په سلو کې کموالی ښیي او د لویې برخې (۲۲ په سلوکې د ټولو) پړه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته ور ګرځي.

په ټولیز ډول په ۲۰۲۰ کال کې د ملکي تلفاتو د کموالی عوامل د حکومت ضد عناصرو لخوا په ښاري سیمو کې د ځانمرګو بریدونو کموالی دی چې د ډیر شمیر ملکي تلفاتو سبب کیږي، په خاص ډول په ښاري سیمو کې او نړیوالو نظامي ځواکونو ته د منسوبو تلفاتو شدید کموالی دی.

په داسې حال کې چې د ملکي وګړو په تلفاتو کې یو زیاتوالی راغلی چې هیڅ ډلې یې مسوولیت ندی منلی او یوناما و نشوای کولی مسوولیت یې کوم اړخ ته راجع کړي، خو رپوټ موندلې چې طالبانو لخوا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې ۱۹ په سلو کې کموالی او د اسلامي دولت خراسان ډلې لخوا ۴۵ په سلو کې کموالی راغلی دی.

له ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي دي، د نړیوالو نظامي ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو په کچه کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شویدی. په ۲۰۲۰ کال کې دغه شمېره ۱۲۰ تنه ده چې د ۲۰۱۹ کال د ۷۸۶ پرتله ۸۵ په سلو کې کموالی ښیي.

هغه مسله چې لاهم د یوې ژورې اندیښنې په توګه پاته ده د حکومت ضد عناصرو لخوا په قصدي ډول پرملکیانو د بریدونو دوام او د هغوی په نښه کول دي. په دغه ډله کې د عدلي ادارو پر غړو، د رسنیو او مدني فعالانو او همدارنګه د مذهبي لړکیو، په ځانګړي ډول پر شیعه مسلمانان چې ډیری یې په هزاره ټبر او سکانو پورې اړه لري، هدفي بریدونه شامل دي.

بې توپیره بریدونه، لکه د طالبانو لخوا په لاس جوړو فشاري ماینونو کارول هم د اندیښنې په توګه پاته دی. دغه ډول چاودیدونکي وسایل د قربانیانو لخوا فعاله کیږي او د کوم خاص هدف پر لور نشي سوق کیدی. همدارنګه، دموټرسوځونکو لاس جوړو ماینونو اندیښنه، ان که نیغ په نیغه د ملکیانو او یا ملکي اهدافو پر وړاندې هم نه وي، د چاودیدونکو توکو د قوت له کبله چې د ډیرو ملکي تلفاتو سبب کیږي پرځای پاته ده.

همدا رنګه په ملکي میشتو سیمو کې د چاودیدونکو وسلو، په ځانګړي ډول د ځمکنیو جګړو پرمهال د هاوانونو، راکټونو او ورته نورو وسلو، او په ملکي میشتو سیمو کې د هوایي بریدونو او په لاس جوړو تعبیه شویو ماینونو کارول بله جدي اندیښنه ده.

په ۲۰۲۰ کال کې د ملکي تلفاتو ستر عامل (۳۶ په سلو کې) ځمکنۍ نښتې وې، چې د ۲۰۱۹ کال پرتله یوڅه زیاتوالی ښیي. ورپسې د حکومت ضد عناصرو لخوا ځانمرګي او غیر ځانمرګي بریدونه راځي چې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي پکې کاریږي (۳۴,۵ په سلو کې) چې ۳۰ په سلو کې کموالی پکې راغلی دی. ورپسې د حکومت ضد عناصرو لخوا هدفي وژنې (۱۴ په سلو کې) چې ۴۵ په سلو کې زیاتوالی پکې راغلی، او بیا د حکومت پلوو ځواکونو لخوا هوایي بریدونه (۸ په سلو کې) چې ۳۴ په سلو کې کم شویدي.

له پیښې وروسته له قربانیانو او د هغوی د کورنۍ له غړو سره د مرکو له لارې، یوناما موندلې چې ښکیلې خواوې باید له خپل اړخه داړول شویو زیانونو د منلو او مسؤلیت اخیستو په برخه کې زیات کار ترسره کړي. ډیری مرکه شویو قربانیانو له یوې پیښې وروسته دمالي مرستو، خوندیتوب، روغتیایي پاملرنې، او رواني- ټولنیز ملاتړ ته اړتیا درلوده. ډیری قربانیان په دې اړه چې ایا په اړه یې څیړنه شوې، عدالت او یاهم د مسؤلو ډلو له خوا ورڅخه بښنه غوښتل شوې په ډیر لږ څه پوهیدل.

د شخړو له امله مخ په ډیریدونکې شمیراغیزمنې شوې ښځې، سړي، هلکان او نجونې باید په یاد ولرو. دوی خپل عزیزان له لاسه ورکړي، ټپي شوي، د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي او همدارنګه له اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخامخ دي. په ډیرو

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

برخو کې دوی فکر کوي چې هېر شوي دي. دوی غواړي چې پرغم يې بايد سترګې پټې نشي، د دوی غږونه واورېدل شي او جګړه پای ومومي. ۲۰۲۰ داسې کال و چې خلک سولې ته سترګې په لار و، خو برعکس له لا زيات تاوتريخوالي سره مخامخ شول.






UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**په وسله واله جګړه کې د ښکېلو ډلو لخوا ملکي تلفات**

د ۱ جنورۍ څخه تر ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰




**د پیښو پر اساس ملکي تلفات**

د ۱ جنورۍ څخه تر ۳۰ دسمبر ۲۰۲۰



UNAMA | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

یوناما مطبوعاتي اعلامیه







ریپورټ دلته ولولئ:

https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

* * *

*یوناما د افغانستان له خلکو او حکومت څخه سولې او ثبات ته د رسیدو لپاره ملاتړ کوي. د سیاسي ماموریت په توګه له خپل ماموریت سره سم، یوناما د شخړې مخنیوی او حل، د ونډې اخیستنې د زیاتیدو او ټولنیز یووالي او همدارنګه د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا ملاتړ کوي. دا ماموریت د اغیزمنې حکومتدارۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو بنسټونو ته چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړ شوي، ملاتړ کوي. یوناما د استقلالیت، بې پرې والي او یووالي د اصل په پام کې نیولو سره د ډیپلماتیکو اقداماتو په کډون د شخړو د زیاتیدو او پراخیدو دمخنیوي په موخه ، د ښه نیت چارې، او نور کلیدي خدمتونه برابروي. دا ماموریت د افغانانو پرمختګ او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوالې مرستې همغږې کوي.*